د زیاتو معلوماتو لپاره:
اندی ام.ای.کمپبیل
د افغانستان د دفتر رییس
۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org

# په افغانستان کی د ټاکنو وروستی معلومات

NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

د افغانستان د ولسی جرگی ټاکنی په ۱۸ سپتمبر

11 Oct 2010: ۲۳ ورځي وروسته له ټاکنو

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرگی د ټاکنو له بهیر څخه د نظارت په موخه څارنیز ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیرونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح گمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شي . AfghanistanElectionData.org

## دټاکنوخپلواک کمیسون د باطلو رایو او بیا شمیرنی پایلي اعلان کړي

د بیا شمیرنی بهیرته د لاس رسی په اړوند د ټاکنو ولایتوځینودفترونو سره اندیښنه موجوده وه.د مثال په توگه په خوست ولایت کی د ملی دیموکرایتیک ادرای کتونوکو ویلی وو چی په لومړیو شیبو کی دشمیرنی بهیرد کتنی څخه لری پاتی شوی وو، د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنوبنیاد یواځنی گروپ وو چی ورته اجازه ورکړل شوی وه ترڅوددی بهیرڅخه لیدنه وکړی. خو وروسته بیا دټاکنو ملی دفتر ددی پاکونه وکړه او ویی ویل مونږ.ټولو د اعتماد وړ کتنونکو ته ښه راغلاست وایو.د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنوبنیاد بیا د اندیښنوپه څرگندولو وایی چی درایو د بیاشمیر بهیرپه اړوند په خپل وخت نه وو خبر شوی، په دویمه ورځ دوی وتوانیدل چی کتنه وکړی.

دټاکنو خپلواک کمیسون د شکایوتو کمیسون څخه غوښتنه کړی چی د هیواد په کچه د ۱۷۰ تنو په درغلیوتورنو نوماندانو په اړه دی څیړنی وشی. ددی پرته د ټاکنو خپلواک کمیسون د شکایاتو د کمیسون .......(پاتی برخه دوهمه پاڼه )

دټاکنو خپلواک کمیسون د ۴۴۲ مرکزونو رای باطلی اعلان کړی، او د ۸۲۸ زیاتو مرکزونو رای بیا شمیری. دا پریکړه هغه وخت رامنځ ته شوه چی کله د ټاکنو خپلواک کمیسون د شمیرنی دمرکزکارکوونکو د ولایتونو څخه د تر لاسه شویو پایلو فورموکی بی نظمی په گوته کړی. پدغه بی نظمیوکښی د یونوماند په گټه د زیات شمیرشکمنو رایو کښل(ثبت)، او هغه فورمی چی د نوماندانود استازولخوا د شمیرنی په بهیر کی نوی امضا شوی( چی دوی د شمیرنی په بهیرکښی کتنه کوله)، شاملي دی.

د هیواد د ټاکنو د کتنو ستر داخلی گروپونه لکه د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنوبنیاد او د ملی دیموکراتیک انستیتیوت د رای بیاشمیرنی د بهیر څخه لیدنه کوی. د نوماندواستازی اود ولایتو د ټاکنودشکایتو ددفترونو کارکوونکي هم موجود وی.

## د پلچرخي په زندان کښی ټاکنې

د ملی دیموکراتیک انستیتیوت د کابل د پلچرخی زندان څخه په لیدنه کښی موندنه کړی چی د افعانستان د زندانونو زیات شمیر بندیان د ټاکنو د بهیر څخه ایستل شوی دی.په کابل کښی بندیان او د محبس مامورین وایی چی یواځی ځینی بندیانو خپلی رای ورکړی. د محبس چارواکی وايي چی په نوموړی محبس کښی تقریباً ۵۰۰۰ تنه موجود دی، د محبس د مامورینو په شمول یواځی ۳۵۰ تنو خپلی رای استعمال کړی.

د افغانستان د ټاکنو د قانون په اساس زندانیان د رای ورکولو حق لري. سره ددې چی د ټاکنو د خپلواک کمیسون چارواکو د ۱۸ د سپتمبر د ټاکنو دمخه ددې اعلان کړی وو چی دوی د ملی اوردو، ملی پولیس او د مختلفو ولایاتو بندیانو ته د ټاکنو اسانتیاوی نشی برابرولی. د ټاکنو په ورځ د ټاکنو د خپلواک کمیسون یو گرځنده ټیم د کابل محبس ته ورسید. نوموړي ټیم د شپږ.و څخه د یو بلاک بندیانو وکتل او نور یی پرینښودل.

د محبس چارواکو ویل چی د نوم لیکنې بهیر کی هم د ټاکنو کمیسون چارواکو په کافی اندازه د ټاکنود پاره کارتونه نه وو راوړې تر څو ټول بندیان راجستر کړی. د محبس د یوبلاک د قومندان د وینا سره سم د ټاکنو د خپلواک کمیسون چارواکو ددریو ساعتو د پاره د پلچرخي محبس څخه لیدنه وکړه او ۲۰۰ کارتونه یی د شپږ.و څخه یو بلاک ته توضیح کړل.

د افغانستان دازادو او عادلانه ټاکنوبنیاد او د بشردحقوقو ازاد کمیسون کتونکو د رای ورکولو بهیرڅارلو. د شپږ.ونوماندانو استازو هم حضوردرولود. د ټاکنود قانون په اساس رای په محبس کی ونه شمیرل شوی او د رای صندوقونه بل مرکز ته واستول شول.

## د کابل ولایت

کابل د هغه ولایتونو څخه دی چی د ټولو زیات شکایتونه یی ترلاسه کړی، د شویو شکایتونو شمیر د ټاکنو په ورځ او وروسته ۴۹۸ ته رسیږی. ددی څخه ۲۶۱ یی د ټاکنو پر پایلو اغیزمن کټگوري شوی دی.د ولایتی شکایاتو دفترویلی چی ۱۶۷ شکایتونه د پام وړ دی خو د ټاکنو پرشمیربه کومه اغیزه ونلری، اوپاتی شکایتونه د اندیښنی وړ ندی. کابل تقریباً ۳.۵ میلویونو وگړی لری، چی ترټولو نورو ولایتونو گڼ بلل کیږی.دولسی جرگی ۳۳ ځانگړی شویو سیټونو لپاره ۶۰۰ نوماندان په کابل کی سیالی کوی. چی دا یو لوړه شمیره د نوماندانو او ځانگړې شویو سیټونه له مخی بلل کیږی. ننگرهارد ۱.۵ میلیونه وگړو په درلودو او دټاکنو څخه یوه ورځ وروسته د ۲۷۸ شکایتونه په ترلاسه کولودوهم ځای لری. لغمان د ۴۰۹۰۰۰ نفوس او ۲۳۸ شکایتونو په تر لاسه کولو دریم ځای لری.

په هغو شکایتونو کی چی د کابل د ټاکنو ولایتی دفترتر لاسه کړی د رای د صندوقونو ډکول، د صندوقونو بیځایه کول،درای په شمیرنه کی درغلی او د کتونکو پر مخ خنډونه شامل دی.په مرکزونو کی د شویو شکایتونو تر څنگ، د شکایاتو ولایتی دفتر ۷۰ تیلیفوني شکایتونه د ټاکنوپه ورځ تر لاسه کړي. که دغه شکایتونه دپام وړاټکل کیدل، نو بیا به کمشنر د ویب پاڼی د لاری خلکو ته لارښونه کوله تر څو د ریښتونی شکایتونو د پاره د شکایتو فورمی ددفترد لاری ډکی کړی. څیړنی روانی د ی، د شکایاتوولایتی دفترد هغو شکایتونو په اړوندچی دټاکنو د ورځی مخکښی شوی وو کومه پریکړه نده کړی. کمیسون د ۱۹۵ هغه شکایتنو پریکړه وکړه کوم چی د ټاکنو د ورځی د مخه شوی وو. چی د شویو پریکړو څخه یی یوی ته هم رجوع ونشوه.

## (د لومړی پاڼی په دوام) د ټاکنو کمیسون د باطلو رای اعلان وکړ

څخه د ۲۷۵ هغو نوماندو د پلټنی غوښتنه هم کړی کومو چی خپل مالی راپورنه په خپل ټاکلی شوی وخت ( دټاکنو د ورځی ۴۸ ساعته وړاندی) ندی ورکړی. وروسته ددی چی د ۱۶۴ مرکزونو په اړوند تر څیړنوورروسته د بی نظمی کوم شواهد ترلاسه نشول د ټاکنو خپلواک کمیسون د نوموړو مرکزونومعلومات د منلو وړ وګڼل. د ټاکنو خپلواک کمیسون تراوسه دنورو ۳۱ مرکزونو بی نظمه معلومات راسم کړی دی.

## د ټاکنو په ورځ د امنیت په اړوند روزنیز پروګرام د لاسرسي وړ ولایاتو ته نا څرګند دی

دغه خبره د اروپایی پولیسو مرام په افغانستان کی د اداري اغیزو او نتیجو ته اشاره کوی په کوم کښی چی ۳۵۰۰۰ پولیس افسران د هیواد په کچه د ټاکنو د ورځی امنیت د پاره روزل کیدل. د اګست په ورستیو کی نوموړي اداری ۲۷۳ افغان پولیس روزونکی په څلورو ولایتونو کی وروزل کومو ته چی د نورو پولیسو روزنه ور په غاړه شوی وو.ددی سره نوموړي اداره وایی چی دوی د داخلي وزارت څخه دا چی دا روزنه په هر ولایت کی څنګه تر سره شوی وه هیڅ معلومات ندی تر لاسه کړی. او دداخلی وزارت وایی چی دوی د افغان ملی پولیسو ولایتی مسولینو څخه هیڅ معلومات ندی تر لاسه کړی.

دغه پروګرام د پولیسو په تنظیم او قانون تاکید کوی، ترڅودټاکنوپه ورځ د هیواد په کچه په عمومی توګه ا منیت کښی ښه والی راولي. دا پروګرام په درویو پړاوونو ویشل شوی وو: د ایوپال ټریوالو روزنکو ۳۵۰ تنه روزنکي د نورو د روزنو د پاره وروزل، او بیا دداخلی وزارت دا دنده درلوده ترڅو هر یود ۳۵۰ تنو څخه لس لس نور روزنکي وروزی.، چی ټول په مجموع کی ۳۵۰۰ تنه جوړیږی. وروسته ددی بیا ټول روزل شوی پولیس به اړونده ولسوالیو ته معرفي شي ددوی څخه هریو به یی بیا د لس لس تنوپولیسوسرپرستي کوی. سربیره پردې(ایوپال ) ۴۰۰۰۰ هغه واړه کتابونه چی په دری او پښتوژبه د ټاکنو دورځی د امنیت اواړینو معلوماتو په اړوند لیکل شوی وو، چاپ کړل. ددی کتابونو محتویات ددی وړدي چی بیسواده خلک هم ورڅخه ګټه واخلی دا ځکه چی ځینی انځورنه هم پدی کښي کی شامل دی.

د بلخ ولایت دپولیسو مرستیال اینډي آي ته ویلې چی دغه روزنیزورکشاپ تر سره شو او خلپی ښی پایلی دځانه سره درلودی.سره ددی چی دنوموړی پروګرام په اړه ځینی ولایت هیڅ ندی خبر. په هرات او خوست ولایت کی د پولیسو چارواکو این ډي ای ته ویلی چی دوی ددی پروګرام په اړه هیڅ خبرندی.

یوپال وایی چی په سر کی دوی د ۲۰۰۹ کال مایوسه کوونکود تیارویو تجربو د امله ددی پروګرام عملی کولو ته میل نه درلود خود اروپای سفارتونو په غوښتنه یی دی ته غاړه کیښوده. په ۲۰۰۹ کال کی د داخلی د وزارت لخوا دغه پروګرام په کمزوره بڼه عملي شو، نوموړی پروګرام کی د ۳۵۰۰۰ګډون کوونکو ملی پولیسو څخه یواځی ۱۰۰۰۰ تنه وروزل شول. ایو پا ل وایی چی د داخلی وزارت په سمون کی سږ کال کوم توپیر ندی راغلی، او دا پروګرام هغه وخت متآثر شو چی کله د داخلی وزارت د ښوونی اوروزنی څانګي ریس په اول د سپمبر بیځایه شو، اودپروګرام د عملی کولو په اړه یی وزارت ته ډیر لږ معلومات پریښوده.

**د ټاکنو په ورځ د رایی اچولو د مرکزونو په نه خلاصیدلو یوه کتنه**

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د معلوماتو په بنسټ، ان.ډی.آی د هغو د رایی ورکولو د مرکزونو په هکله چی د ټاکنو په ورځ نه وو خلاص شوی یوه کره کتنه تر سره کړه. د رایو د مرکزونو ته په پام سره په هر ولایت کی له ٪۷۵ څخه ډیر د رایو د اچولو مرکزونه د ټاکنو په ورځ خلاص وو. دا جوته کیږی چی کوچنی مرکزونه د ټاکنو په ورځ بند پاتی شول . په منځنی توګه هر د رایی ورکولو مرکز ۲.۸ د رایو ستیشنونه لری په داسی حال کی چی دا حد باید ۳.۲ ستیشنه وای. د غور وړ ده چی د دوو ولایتونو لومړنی پایلی چی تر اوسه نه دی خپری شوی د دی حد په مخالفت کی قرار لری. له کندهار څخه را رسیدلی راپورونه ښیی چی هیڅ در رایی مرکزبند نه وو خو په نورستان کی د راپورونو په بنسټ یوازی ٪۶۲ مرکزونه خلاص وو چی دا په هیواد کی تر ټولو ټیټه سلنه

**ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمینارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.**